# ضمیمه 1

**د ستنو، فرعي ستنو او کټګوریو تشریح**

دا تحلیلي چوکاټ نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د سازمان (USAID) له لارې د امریکا د خلکو په سخاوتمندانه مرستو سره ممکن شوی دی. منځپانګه یې د IRC-DRC د پروژې مسوولیت دی، د نړیوال حفاظت د کلستر لپاره د معلوماتو او تحلیل د کاري ډلې سره په همکارۍ کې، او ضروري نده چې د USAID یا د متحده ایالاتو د دولت نظرونه انعکاس کړي.

د سیاق و سباق ستنه هغو اړوندو معلوماتو ته اشاره کوي کوم چې د هغي سیمي لپاره مشخص وي چې د حفاظت تحلیل کي پوښښ ورکول کیږي، چې د لوړي کچې په ډاټا سره بشپړول کیږي.

| ستن | تشریح | |
|---|---|---|
| سیاق و سباق | فاکتورونه ددې پوهېدنې لپاره چې څشی د بحران داینامیکونه رامینځته کوي او بنه ورکوي او دد سیاق و سباق او چاپېریال مشخصو ځانګړتیاو ته په کتنې کولو سره په نتیجه کې رامینځته کېدونکې حفاظتي وضعیت. | |
| **فرعي ستن** | **تشریح** | **کټګورۍ** |
| د شخړې او/یا خطر تاریخ | هغه اړوند تاریخي عناصر چې په موجود تاوتریخوالي اثر کوي او د تېر وخت د حفاظت ګواښونه او اندېښنې ښیي. | موقعیت |
| | | کړکېچونه، شخړه او دښمنۍ |
| | | طبعي خطرونه |
| | | مخکیني تمایلات |
| | | ثبات او سوله |
| سیاسي او ټولنیزه-اقتصادي منظره | هغه اړوند عناصر چې د اوسنیو حفاظتي خطرو او اندېښنو سبب کېږي، وده ورکوي یا دوام ورکوي. | سیاسي نزاکت |
| | | غبن او حسابداري |
| | | د قدرت ډینامکونه |
| | | سیاسي توان ورکوونکي او خنډونه |
| اداري، قانوني، او اصولي منظره | رسمي او غیر رسمي مقررات، اصول، تګلارې، یا سیسټمونه چې اوسنیو حفاظتي ګواښونو یا اندېښنو ته زمینه برابروي، یا کوم چې ددغو ګواښونو مقابله کوي او یو حفاظتي چاپېریال ته وده ورکوي. | اداري |
| | | قانوني |
| | | اصولي |
| | | نړیوال |

"د نفوس ستني ته اوسني ګواښونه" هغي ډاټا او معلوماتو ته اشاره کوي کوم چې هغه بشري فعالیتونه یا د بشري فعالیتونو محصول واضحه کوي چې نفوس ته د زیان سبب کېږي (د تاوتریخوالي، جبر او/یا عمدي محرومی په بڼه).

**ګواښ**

ګواښ کم کړئ

| ستن | تشریح | |
|---|---|---|
| **نفوس ته اوسني ګواښونه** | هغه ګواښونه چې دا مهال رامینځته کېږي او دا څرنګه د نفوس په بېلابېلو ډلو او جغرافیایي سیمو اغېز کوي. داسي معلومات پکي شامل دي کوم چې ګواښ لپاره مسوول مرکزي ممثلان، د خلکو د حفاظت لپاره د هغوی مسوولیتونه او وظیفي، او هغه فاکتورونه چې د ګواښونو سبب یا محرک کېږي تشریحوي. | |
| **فرعي ستن** | **تشریح** | **کټګوری** |
| **حفاظتي خطرې** | نفوس ته د اوسني زیان کچه، د تاوتریخوالي، جبر یا عمدي محرومی په بڼه، کومه چې د حفاظت د خطر کچې ته لوړېږي. په دې اړه پکي معلومات شامل دي چې آیا ګواښ د یو ځانګړي چلند، د سازمان/ډلي د عمل، یا د دولت یا غیر دولتي تګلاری یا میکانزم نتیجه ده. | ګواښونه<br>ډول<br>موډلیت |
| **ګواښونو لپاره مسوول اصلي ممثلین** | د ښکېلو ممثلینو مسوولیت، په ګډون د هغو ډلو یا افرادو د پېژندني کوم چې نبغ په نبغه د زیانمن عمل مرتکب دي، اغېزمن شوو خلکو سره د هغوی تړاو او تعلق، او د هغو ممثلینو رول کوم چې مشخصي وظیفي لري. | ډول<br>تړاو<br>اغېزمنو شوو خلکو سره تعلق<br>احتساب |
| **د ګواښونو اصلیت** | هغه فاکتورونه چې د ګواښ د رامینځته کېدو سبب شو(ي). په دې کې د هغو اصلي ممثلینو هغه عُمده انګیزه(انګیزې) شاملي دي کوم چې د ګواښ مسوول دي (مرتکبین یا د ممثل حفاظت لپاره د خپلې وظیفي ترسره کېدو کې ناکامېدل). په دې کې ټولنیز-اقتصادي، چاپېریالي، اتنیکي یا سیاسي محرکین او اصول شامل دي کوم چې، په سیمه ییزه، ملي او/یا نړیوالو کچو، د ګواښ په دوام کې کومک کوي. | نوعیت<br>محرکات<br>اصول |

"د نفوس ستنې ته اوسني ګواښونه" هغې ډاټا او معلوماتو ته اشاره کوي کوم چې هغه بشري فعالیتونه یا د بشري فعالیتونو محصول واضحه کوي چې نفوس ته د زیان سبب کېږي (د ناوړتیاوو، تاوتریخوالي، جبر او/یا عمدي محرومی په بڼه).

**آسیب پذیري**

ګواښ سره اړوند آسیب پذیري کمه کړئ

| ستن | تشریح | |
|---|---|---|
| **په نفوس د ګواښ اغېزې** | د نفوس هغه ډلې کومې چې ګواښونو اغېزمنې کړې دي، او دا چې هغوی څرنګه او ولې ددغو ګواښونو په وړاندې آسیب پذیر دي او د نفوس په مختلفو ډلو او جغرافیایي سیمو کې به یې عواقب څرنګه توپیر ولري. | |
| **فرعي ستن** | **تشریح** | **کټګوري** |
| **د اغېزمن شوي نفوس ځانګړتیاوې** | د هغه اغېزمن شوي نفوس ځانګړتیا(وې) کوم چې نېغ په نېغه د ګواښ لخوا اغېزمن شوی وي چې د ګواښونو په تړاو د هغوی آسیب پذیري واضحه کوي. | ډموګرافي |
| | | موقعیت |
| | | افشاء |
| | | حرکتونه |
| **د ګواښ عواقب** | د نفوس د هرې ډلې او اغېزمن شوي موقعیت لپاره د ګواښ اولنۍ او ثانوي اغېزې او عکس العملونه. | فزیکي |
| | | ټولنیز او عصبي-ټولنیز |
| | | قانوني او مادي |
| **د اغېزمن شوي نفوس د مقابلې ستراتیژۍ** | د ګواښ د پېژندل شوو عواقبو په وړاندې د اغېزمن شوي نفوس غبرګونونه (مثبت/منفي). دا پکې شامل دي چې د ګواښ ادراکونه څرنګه په دې غبرګونونو اثر کوي. | ځان ایستل |
| | | اقدام |
| | | تعدیل |
| | | مقابله |
| | | نور |
| | | د ګواښ ادراکونه |

"د حفاظت د ګواښونو د حل کولو لپاره د موجودو ظرفیتونو" ستن د هغو سرچینو او ورتیاو د پوهېدنې لپاره معلومات شامل دي کومې چې په انفرادي او د ټولنې په کچه، په نږدې چارچاپېر سیمو کې او د ملي او نړیوال جوړښت په کچه، د هر پېژندل شوي ګواښ د حل کولو لپاره موجودې دي.

ظرفیت
د ګواښ سره اړوند
ظرفیتونه لوړ کړئ

| ستن | تشریح | |
|---|---|---|
| **د حفاظتي ګواښونو د حل کولو لپاره موجود ظرفیتونه** | هغه سرچینې او وړتیاوې (مهارتونه، علم، ټولنیزې شبکې او نور فاکتورونه) چې د حفاظت د ګواښونو د حل کولو لپاره په انفرادي او سیمه ییزه کچه موجودې دي، یا د عواقبو د کمولو له لارې او یا د ګواښ د محرکاتو د حل کولو له لارې. د هر ډول اداري غبرګونونو یا د ملي او نړیوالو ظرفیتونو تحلیل پکې شامل دی. | |
| **فرعي ستن** | **تشریح** | **کټګوری** |
| **د اغېزمن شوي نفوس ظرفیتونه** | د افرادو، کورنیو، فامیلونو، او/یا نورو ډلو د ګواښ او د هغې د عواقبو په وړاندې مقاومت لپاره سرچینې او وړتیاوې (په ګډون د مهارتونو، سرچینو او پوهې). | فزیکي |
| | | ټولنیز او عصبي-ټولنیز |
| | | قانوني او مادي |
| | | موجودګي |
| **سیمه ییز میکانزمونه، سیستمونه او ممثلین** | په اغېزمن شوي موقعیت کې له موجودو ادارو، سیستمونو او ممثلینو (ټولنې، ښاروالۍ، سیمې) سره د انفرادي او ډله ییزو ظرفیتونو ترکیب تر څو روان ګواښ یا د ګواښ عواقب کم کړي یا ورته غبرګون ونښيي. په دې کې د هغه حد پېژندل شامل دي تر کومه چې دا اداري، سیستمونه، ممثلین او خلک فعالیت کوي، موجود وي، او نفوس ته د قبولی وړ وي. | حفاظت |
| | | خوندیتوب او امنیت |
| | | خدمتونه |
| | | کولتوري او ټولنیز |
| | | لاس رسی او موجودګي |
| **اداري، نور میکانزمونه، او د غبرګون ظرفیتونه** | هغه ممثلین چې د حفاظت وظیفه او ددې لپوالتیا او ظرفیت لري چې مرتکبینو سره حساب وکړي. د حفاظت او غبرګون عمومي اداري سرچینې او وړتیاوې تشریحوي، په ګډون د عدلیې او امنیتي ادارو، غیر رسمي میکانزمونو، او همدارازد ملي او نړیوالو حفاظتي میکانزمونو او غبرګونونو. | وظیفي |
| | | دولتي غبرګون |
| | | نور میکانزمونه |
| | | نړیوال غبرګون |
| | | مخنیوونکي |